مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۷/۰۸

# غزل

# هيڅ کله منزل ته نه رسيږو

ننوتـی مـې پـه زړه باندې خنجر دی
د خيرنـو سترګـو تل پـر ما نظر دی

لوڅې پښې، ځيرې ګريوان، خاورې په سر دی
چـې افغان بچی پـه دغسې سفر دی

دې حالاتو ترې جومات او مندر ورک کړ
اوس د دين او د ايمـان نـه ناخبـر دی



زما په اوښکو وسه رسي، لپې اخله
زما سترګې، سترګې نه دي، سمندر دی

د زلمو د سترګـو تـور په سرو بدليږي
دنګ چنارډی سوزيدلی، وران ګودر دی

دا چې هيڅ کله منزل تـه نـه رسـيږو
غولېدلی مو د بل په خوله رهبر دی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

"پسرلیه"! د غزل تکي دې ژاړي
ستا د زړه لوګی د خولې نه رابهر دی

مصطفی پسرلی
۰۷/۰۷/۲۰۱۹

**یادونه:**

**که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!**

هېڅ کله منزل ته نه رسېږو
Mostafa_p_٦٧_hets_kala_manzel_ta_narasegoo.pdf